**د کاناډا سفارت د ارغنداب د ولسوال وژنه وغندله**

د جون 16مه 2010

په افغانستان کې د کاناډا د سفارت شارژدافیره میرمن سندي ترمورشویزن نن دغه بیانیه د کندهار ولایت د ارغنداب د ولسوال د وژنې په اړه صادره کړه.

"کاناډا هغه بزدلانه برید چې په پایله کې یې د ارغنداب ولسوال حاجي عبدالجبار او د هغه د زوی عبدالقدوس په ګډون د دوو تنو نورو د وژنې لامل شو، په کلکه غندي."

" حاجي عبدالجبار د ارغنداب په ولسوالۍ کې میشتو افغانانو ته د یو ښه ژوند د برابرولو په خاطر هڅه کوله. د نوموړي وژنه به د کاناډا په ګډون د هغو کسانوله هڅو څخه مخنیوی ونکړي، کوم چې د یوې سوله ایيزې او هوسا ولسوالۍ او په تولیيزه توګه د ټول افغانستان لپاره د ده په شان اراده او ژمنې لري. "

"زه د کاناډا د سفارت په استازیتوب، د حاجي عبدالجبار کورنۍ او ملګرو ته د خواخوږۍ او همدردۍ ژور مراتب وړاندې کوم. "

"کاناډا د افغانستان د منتخب حکومت د غوښتنې او د ملګرو ملتونود پریکړه لیک له مخې د ناټو د ماموریت په چوکاټ کې په افغانستان کې شتون لري. د کاناډا موخه د دیموکراسي د اساسي ارزښتونو، بشري حقونو او د قانون د تینګښت پر بنسټ د یوبا ثباته او ډاډمن هیواد په جوړولوکې د افغانانو سره مرسته ده."